بسم الله الرحمن الرحيم

# د وضعی قوانینو د تفسیر څرنګوالي



**لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم ( ستانکزی)**

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على خير خلقه محمدٍ وعلى آله واصحابه اجمعين:

## سریزه:

**انسانان او ټولني لړيني دي ترڅو ټولنيز ژوند د قوانينو په چوکاټ کې تنظيم کړي، که څه هم قوانين په الهی قوانينو او وضعي قوانينو بيلېږي چې زمونږ هدف په دغه ليکنه کې د وضعي قوانينو تفسير ده، دغه بيلګه قوانين هر څومره چې د هغو په جوړښت کې د قانون جوړونکی دقت وکړي، بيا هم په قانون کې د ابهام او اغماض امکان شتون لري، چې دغه ابهام د قانون تطبيق شايد په ناسمه لاره بوځي او د هغه له تطبيق څخه د هغه د نه روښانتيا په پلمه شايد ډډه او امتناع وشي. پر همدې بنسټ د قانون د تفسير قواعد د حقوقو په علم کې رامنځته شول، چې په دغه مبحث کې د افغانستان د حقوقي سيستم له مخې لومړی د تقنيني اسناد ډولونه وروسته د تفسير مراجع او ورپسې د تفسير ډولونه د موضوع له پلوه شرحه کوو:**

## لمړی مبحث

### عمومیات

### د تقنیني اسنادو ډولونه او د هغو تعریف

تقنیني اسناد په مختلفو ډولونو وېشل کېږي، البته د خپل قوت په نظر کې نیولو سره په تقنیني اسنادو کې قانون ډېر پیاوړی سند ګڼل کېږي. په قوانینو کې هم اساسي قانون له ټولو غوره او پیاوړی دی.

تقنیني اسناد د تقنیني اسنادو د طی مراحل د قانون د (۳) مادې د (۱) فقرې د حکم په ترڅ کې داسې معرفي شوي دي:

۱- قانون؛

۲- تقنیني فرمان؛

۳- مقرره؛

۴- اساسنامه؛

۵- په پورتنیو اسنادو کې تعدیل، ایزاد، حذف، الغا، تعلیق، ضمیمه؛

۶- د حکومت هغه مصوبات، چې تقنیني صبغه ولري.

د پورتنۍ مادې د حکم پربنسټ تقنیني اسناد په لاندیني چارټ کې لومړی معرفي او ورپسې هر یو په لاندې ډول تفصیل ورکول کېږي:



## لومړی مطلب: قانون:

قانون هغه ډېر مهم تقنيني سند دی، چې نور راتلونکي تقنيني اسناد ترې سرچينه اخلي. دغه تقنيني سند ته ټولې ټولنې اړتيا لري، ترڅو د هغه له مخې د يو بل پروړاندې او يا د ټولنې پروړاندې د خپلو اتباعو حقوق او مکلفيتونه تنظيم کړي. د آفاقي حقوقو ټولې ځانګې په تقنيني برخو کې د ټولنو لپاره مشخص قوانين لري، د خپل بحث په دې برخه کې دا لازمه ګڼو، ترڅو لانديني موارد د قانون په برخه کې معرفي کړو:

**١ . د قانون تعريف:** قانون لاتيني کليمه ده، چې اصل يې کانون دی او د عربي ژبې په ګرامر کې په قانون معرب شوی، چې په پښتو او دري ژبو کې له عربي ژبې څخه اقتباس شوی دی او د خط کش او مقياس په معنا کارول کېږي.[١]

قانون په اصطلاح کې: د هغو کلي الزامي حقوقي قواعدو له ټولګې څخه عبارت ده، چې له اجرايي ضمانت سره غبرګ د واکمنې قوې له خوا د ټولنې د نظم د تنظيم لپاره وضعه کېږي.

يا د افغانستان د ١٣٤٣ هـ. ل او د ١٣٦٦ هـ ل او د ١٣٨٢ هـ. ل کال د اساسي قوانينو له مخې په شکلي ډول داسې تعريف شوی ده :

(قانون هغه مصوبه ده، چې د ملي شورى د دواړو جرګو له خوا تصويب او د جمهور رئيس له خوا توشيح شوې وي، مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي).

**٢ . په افغانستان کې د قانون سرچينې:** دافغانستان د تيرو اساسي قوانينو په نظر کې نيولو سره او د ١٣٨٢ هـ. ل اساسي قانون د دريېمې مادې په نظر کې نيولو سره چې په افغانستان هېڅ قانون د اسلامي شريعت مخالف نه شي نافذېدای، د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون د خپلې (١٦) مادې په ترڅ کې د تقنيني اسنادو سرچينې داسې ځانګړې کوي:

(د دغه قانون د څوارلسمې مادې مندرج کمېسونونه او انستيتيوت مکلف دي، چې د تقنيني سند د ابتدايي طرحې د تسويد کار له لاندينيو سرچينو څخه په ګټه پيل کړي:

١ . اسلامي شريعت؛

٢ . اساسي قانون؛

٣ . نافذ تقنيني اسناد؛

٤ . د هېواد د سياست اساسي کرښې؛

٥ . نړيوال تړونونه او معاهدات چې افغانستان ورسره الحاق شوی دی؛

---

١ - فرهنګ معين.

۶ . د نورو هېوادونو مشابه تقنيني اسناد؛

۷ . د ټولني سالم عرف؛

۸ . په پام وړ موضوع کې د علمي او څېړنيزو مراجعو د متخصصينو او څېړونکو خپاره شوي نظريات او وړانديزونه؛

۹ . نوري سرچيني.[۲])

پورتني موارد يو په بل پسې هر يو په افغانستان کې د وضعي قوانينو د مصدرونو او سرچينو په توګه ګڼل کېږي، د وروستيو سرچينو هر يوه له مخکينيو څخه پيروي کوي، يعني پورتني موارد د قوت له مخې په ترتيب سره په افغانستان کې د قوانينو د وضعې مصادر او منابع ګرځېداى شي. دې توضيح سره چې اساسي قانون، نور قوانين، نړيوال تړونونه چې افغانستان ورسره الحاق شوى دى، د ټولني عرف د لومړنۍ سرچيني چې د اسلامي شريعت له احکامو څخه عبارت ده، مغاير نه شي کېداى او همدارنګه فرعي قوانين د اساسي قانون مخالف نه شي کېداى.

۳ . **قوانين او ډولونه يې:** قوانين د اصل او فرع له نظره يا د موضوع له نظره په مختلفو ډولونو وېشل کېږي، چې په لانديني چارټ کې معرفي او وروسته هر يو توضيح او تفصيل يې وړاندې کېږي.




**ا) اساسي قانون: له هغه تقنيني سند څخه عبارت دى، چې د دولت د ثلاثه ارکانو او د هغو ترمنځ د قوو د تفکيک د اصل، د هېواد د سياسي او اداري نظام، د اتباعو د حقوقو او وجايبو په اړه بحث کوي.**

اساسي قانون د ام القوانين (د قوانينو د مور) په نوم هم يادېږي، ځکه نور قوانين له هغه نه منشا او سرچينه اخلي د افغانستان په سل کلن وضعي تقنين کې له ۱۳۰۲ هـ.ل کال نه تر اوسه پورى (۷) اساسي قوانين د هر نظام له بدليدو سره تغير، تبديل، الغا او يا تعليق شوى ده، کيداي شي چې افغانستان به لمړنۍ هيواد وي چې د هغه اساسي قوانين د هر رژيم په تغير سره ملغى او تغيريري چې ناسمه تقنيني عرف په افغانستان کې د بې ثباته اساسي حقوقو بيلګه ده، پداسې حال کې چې د وضعي قانون يو خصوصيت تعديل ده او بهتره به دا وه چې اساسي قانون ته نوې څيره ورکول په ځينو

۲ - د تقنيني اسنادو د طى مراحل قانون، (۱۶) ماده.

مواردو کې د ټولنې او نړیوالو له اصولو سره  سم تعدیل شوی وی پداسی حال کې چې ډیرې هیوادونه لدغه بیلګې نه استفاده کړې ده.

**ب) فرعي قوانین:له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې له اساسي قانون څخه وروسته په مختلفو برخو کې د ارګانیکو یا عادي قوانینو په شکل د با صلاحیته مرجع له تصویبه وروسته د هیواد د لمړی شخص له توشیح وروسته په رسمي جریده کې خپاره او نافذیږي.**

فرعي قوانین په ارګانیکو او عادي قوانینو وېشل کیږي، چې هر یو عبارت دی له:

**۱ . ارګانیک قوانین: له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې د یو ارګان لپاره د هغه د تشکیل او صلاحیتونو په برخه کې وضعه کیږي، په داسې حال کې چې د هغه قانون اصل په اساسي قانون کې صراحت ولري.**

په پورتني عبارت کې دوو قیدونو ته اشاره شوې، چې دغه دوه قیدونه ارګانیک قوانین له نورو قوانینو څخه د یو بل په ګډون رامنځته کوي، دغه دوه قیدونه عبارت دي له (د ارګان لپاره وضعه شوي وي او اصل يې په اساسي قانون کې) موجود وي، که چېرې دغه دوه یاد قیدونو او شرطونه په قوانینو کې پیدا کړو، بیا دغه قوانین د ارګانیکو قوانینو په نوم یادیږي، لکه د قضایه قوې د تشکیل او واک قانون چې د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون په (۱۱۶) ماده د یاد قانون په اړه داسې صراحت لري:

( قضایه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی، قضایه له یوې سترې محکمې، د استیناف له محکمو او ابتدایه محکمو څخه جوړه ده، چې تشکیلات او واکونه يې د قانون له لارې تنظیمیږي).

په دې برخه کې د اساسي قانون (۱۲۳) ماده په بیاځلې ټینګار سره دا تصریح کوي:

(د دې اساسي قانون د حکمونو په رعایت د محکمو په تشکیل، صلاحیت او اجراأتو پورې مربوط قواعد او په قاضیانو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظیمیږي).

د یادې مادې په تصریح کې په وضاحت سره دوه شرطونه لیدل کیږي، قضایه قوه يې د ارګان په توګه معرفي کړې او تصریح کوي، چې د دغه ارګان تشکیلات او واکونه د قانون په واسطه تنظیمیږي او دا هماغه د قضایه قوې د تشکیل او واک ارګانیک قانون دی.

او یا د یاد اساسي قانون د (۱۳۴) مادې په تصریح کې د لوېې څارنوالۍ د ادارې د تشکیل او صلاحیت قانون ته اشاره شوې ده او داسې صراحت لري:

(د جرمونو کشف د پولیس په وسیله او د جرمونو تحقیق او په محکمه کې پر متهم باندې د دعوا اقامه د څارنوالۍ له خوا، د قانون له احکامو سره سم کیږي. څارنوالي د اجرایه قوې برخه ده او په خپلو اجراأتو کې استقلال لري، د څارنوالۍ تشکیل، صلاحیت او د اجراأتو څرنګوالی د قانون له لارې تنظیمیږي).

د پورتنۍ مادې په تصریح کې هم که پاملرنه وشي، دوه شرطونه ارګان او ځانګړي قانون ته د تشکیل او واک حواله تصریح شوي دي، چې موخه ترې د څارنوالۍ د تشکیل او واک قانون دی.

**تبصره: له عادي قوانینو سره د ارګانیکو قوانینو د بېلېدو لامل:**

ارګانیک قوانین لکه څرنګه چې له خپل نومه ښکاري، د ارګان د تشکیل او صلاحیت لپاره وضعه کېږي او د دغه ډول قوانینو د تفکیک لامل په لومړي قدم کې همدغه لامل دی، چې یاد شو، ورپسې دغسې قوانین له اساسي قانون څخه وروسته د نورو فرعي قوانینو په نسبت د خپل ځواک له مخې وړاندې دي، دې توضیح سره که چېرې د ارګانیکو قوانینو او عادي قوانینو ترمنځ تضاد رامنځته شي، نو د عادي قوانینو په نسبت ارګانیکو قوانینو ته ارجحیت ورکول کېږي.

**۲ . عادي قانون:له هغه تقنیني سند څخه عبارت دی، چې د متني حقوقي قواعدو مختلفې برخې تنظیموي او یا د حقوقي قواعدو او معیارونو په واسطه د محاکماتي او اداري پروسو شکلیات جوړوي.**
د پورتنۍ محتوا له مخې عادي قوانین په متني او شکلي قوانینو وېشل کېږي، چې هر یو په لاندې ډول معرفي کېږي:

**متني قوانین:له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې د حقوقي متني قواعدو ټولګه یې په ځان کې ځای کړې او د ټولنې د نظم تنظیموونکي دي.**
د پورتني متن پربنسټ د داخلي (ملي) آفاقي حقوقو ډېرو څانګو په عام ډول عمومي او خصوصي څانګو چې د حقوقي متني قواعد په ځان کې ځای کړي دي، د عمومي حقوقو په برخه کې لکه د جزا قانون، پر عایداتو د مالیاتو قانون او د خصوصي حقوقو په برخه کې مدني قانون له خپلو څلورو برخو (کورنۍ، عیني، وجایبو او میراث) سره په متني قوانینو کې د متني قواعدو تنظیموونکي ګڼل کېږي.

**شکلي قوانین:**له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې د حقوقي شکلي قواعدو ټولګه یې په ځان کې ځای کړې او د محاکماتي او اداري پروسو شکلیات تنظیموي.
د پورتني متن پربنسټ په دې برخه کې هغه قوانین داخلېږي، چې د محاکماتي یا اداري پروسو د شکلیاتو بنسټ ږدي، لکه د مدني محاکماتو د اصولو قانون د مدني دعوو لپاره د مدني محاکماتو د پروسې د شکلیاتو حقوقي قواعد وضعه کوي، د سوداګریزو محاکماتو د اصولو قانون د سوداګریزو دعوو لپاره د سوداګریزو محاکماتو د پروسې د شکلیاتو حقوقي قواعد وضعه کوي او یا د جزایي اجراأتو قانون د جرمونو د کشف، تحقیق او محاکمې د پروسو د شکلیاتو لپاره حقوقي قواعد وضعه کوي.

په اداري برخو کې د اداري اجراأتو قانون په مثال کې راوړلای شو، چې له عامه ادارو څخه د اشخاصو د شکایت شکلیات د حقوقي قواعدو له مخې طی مراحل کوي.

### تبصره: د متني او شکلي قوانينو د وېش لامل:

عادي قوانين په دوو ډولونو متني او شکلي ولې وېشل شوي دي، په ځواب کې ويل کېږي، چې لامل يې د دغو قوانينو ځانګړتياوې دي، متني قوانين نامتحرک او ساکن دي، يوازې فرمان صادروي، لکه د جزا کوډ (د جزا قانون) دا بيانوي، چې غلا جرم دی او مرتکب يې د متوسط حبس د مجازاتو وړ دی، يا په مدني قوانينو کې دا د مېړه وجيبه ده، ترڅو خپلې مېرمنې ته نفقه ورکړي او دغسې نور احکام په متني قوانينو کې شتون لري، چې د تطبيق تحرک نه لري، يا په بل عبارت د دې لپاره چې د نافذه قوانينو مندرج حقوقي قواعد د اجرايي ضمانت ځانګړتيا ترلاسه کړي او مؤيدات يې تطبيقي جنبه پيدا کړي، شکلي قواعد د قواعدو د تطبيق په برخه کې چې په متني قوانينو کې تسجيل شوي، د هغو مرسته کوي، دا شکلي قوانين دي، چې متني قوانين په عملي برخه کې تطبيقوي، لکه ياد مثالونه که بيان کړو، نو د جزا قانون غلا جرم ګڼي، په داسې حال کې چې د جزايي اجراأتو قانون غل پيدا او له هغه يې تحقيق کړی، له اثبات څخه وروسته يې د خپلو قواعدو له مخې د محاکمې په خاطر محکمې ته دعوه اقامه کړې او محکمه د شکلي حقوقي قواعدو له مخې غل محاکمه او د هغه د مجازاتو پربنسټ پرېکړه صادروي.

**ج) تقنيني فرمانونه: دغه تقنینی سندونه کچیری ملی شورا ( پارلمان ) وجود ولری او دغه پارلمانونه کلنی رخصتی لري پدغه کلنی رخصتی کې حکومت په عاجلو مسايلو او حالاتو کې کولای شي چې تقنینی فرمانونه صادر کړي او دغه فرمان په معنيه زمانه کې چې اساسی قانونی تعینوی باید پارلمان ته د تصويب لپاره وړاندی شی، تر هغو دغه تقنینی فرمان د قانون حيثيت لری تر څو چې له پارلمان نه رد شوی نوی.**

### دويم مطلب: مقررې:

مقرره د تقنيني اسنادو له ډلې څخه د قوانينو فرع ګڼل کېږي، چې د تقنيني اسنادو د طی مراحل په قانون کې داسې تعريف شوې ده:

**د مقررې تعريف:** د هغو الزامي حقوقي قواعدو ټولګه ده، چې د هېواد د سياست د بنسټيزو کرښو د تطبيق، د قانون د احکامو د غوره تطبيق او د وزارتونو او دولتي ادارو د دندو د تنظيم په موخه د حکومت له خوا وضعه شوې وي.[۳]

مقررې له هغو حقوقي قواعدو څخه جوړې دي، چې په اداري، مالي، قضايي او نورو برخو کې د الزامي ځانګړتيا په خاطر وضعه کېږي، د مقررې اساس قانون ورکوي، يعنې د قانون فرع ده، کوم احکام چې په قانون کې په مجمل او کلي شکل وضعه شوي وي، نو د تطبيق لپاره د قانون د حکم د مسايلو او تفصيلي طريقې د وضعې په خاطر مقررې وضعه کېږي.

---

۳ - د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون، (۳) ماده (۵) فقره.

د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون پورتنی تعریف د ۱۳۸۲ هـ.ل اساسي قانون د (۷۶) مادې له مخې وړاندې شوی دی، یاده ماده داسې صراحت لري:

(حکومت د هېواد د سیاست د اساسي کرښو د تطبیق او د خپلو وظیفو د تنظیمولو لپاره مقررات وضع او تصویبوي. دا مقررات باید د هېڅ قانون له نص یا روح سره مناقض نه وي).

د اساسي قانون د پورتنۍ مادې د تصریح له مخې دا قید شوې، چې حکومت د هېواد د سیاست د بنسټیزو کرښو او د (وزارتونو) د دندو د تنظیم په برخه کې مقررات وضعه کولای شي، د یاد قید پربنسټ قضایه او مقننه قوې ترې وځي، دغه دوه قوې په اختصاصي برخو کې د ځان لپاره مقررات وضعه کولای شي، ځکه د (حکومت) تخصیص او قید قضایه او مقننه قوې د قانون د پورتنۍ مادې له تصریح څخه باسي، پر همدې بنسټ قضایه قوه په قضایه برخه کې صلاحیت لري، چې د قضایي قوانینو د فروعاتو د توضیحاتو لپاره مقررات وضعه کړي، همدارنګه مقننه قوه هم د مقننه قوې په برخه کې د ځان لپاره مقررات وضعه کولای شي، چې هره قوه (قضایه، مقننه او اجرایه) د خپل اعلی مجلس له تصویب (د شورا، د سترې محکمې د عالي شورا او د حکومت د کابینې تصویب) او د هیواد د اول شخص له توشیح څخه وروسته مقررې وضعه کولای شي.

مقرره چې د خپلې برخې د قانون فرعه ده، داسې تنظیمېږي، چې د قانون د کلي حکم د تطبیق په خاطر پوره فروعات او توضیحات برابروي، لکه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون د خپلې (۱۳) مادې د (۵) جز په ترڅ کې تصریح کوي:

(له همکارانو او مراجعینو سره دې نېک چلند وشي).

دا چې د قانون دغه کلي حکم څرنګه تطبیق شي، نو هغې مقررې ته اړتیا لیدل کېږي، چې په دې اړه تفصیلي احکام توضیح کوي، په همدې خاطر د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د سلوک د طریقې مقرره وضعه شوې ده، چې په دغې مقرره کې د کارکوونکو د سلوکي (اخلاقو) تفصیلي احکام توضیح او بحث پرې شوی دی.

یا د دیپلوماتیکو کارکوونکو د ټاکلو او ګومارلو په اړه چې یوه برخه یې د افغانستان په سیاسي نماینده ګیو کې له پولو بهر د هېواد د سیاست د اساسي کرښو رانغاړونکې ده، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د روح پربنسټ د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د احکامو تر شرایطو او د دیپلوماتیکو کارکوونکو د ټاکلو په تړاو تر ځانګړو شرایطو لاندې د دیپلوماتیکو کارکوونکو مقرره وضعه شوې ده.

### درېیم مطلب: اساسنامې:

اساسنامه هغه تقنیني سند دی، چې په عامه سکتور او ادارو کې وضعه کېږي، د عامه سکتور د تګي یادول په دې موخه دي، کومې اساسنامې چې په خصوصي سکتور کې وضعه کېږي، لکه خصوصي غیر دولتي سوداګریزو شرکتونو، ټولنیزو سازمانونو او سیاسي سازمانونو کې، هغه اساسنامې زموږ د بحث موضوع نه جوړوي، یوازې هغه اساسنامې د تقنیني اسنادو په لیست کې درج دي، چې د عامه

سکتور لپاره وضعه کېږي، لکه د برېښنا شرکت اساسنامه، د حسابدارۍ د چارو د انستيتيوت اساسنامه.

پر همدې بنسټ د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون اساسنامه داسې تعريفوي:

**د اساسنامې تعريف:** د هغو الزامي حقوقي قواعدو ټولګه ده، چې د علمي، څېړنيزو بنسټونو، وزارتونو، دولتي ادارو، دولتي او مختلطو تصديو او شرکتونو د تشکيل، دندو او واکونو د اړوندو چارو د تنظيم په موخه د حکومت له خوا وضعه شوې وي.

د پورتني تعريف پربنسټ اساسنامه د مقررې په رديف کې ځای لري، اساسنامې د مقررو په څېر حکومت (کابينه) تصويبوي او د هيواد د اول شخص له خوا توشيح بيا په رسمي جريده کې له خپرېدو وروسته نافذېږي.

## څلورم مطلب : د کابينې مصوبې چې تقنيني جنبه ولري:

ځينې وخت د دولت کابينه چې له وزيرانو څخه جوړه شوې ده، داسې تصميمونه نيسي، چې تقنيني حيثيت لري، د درجه بندۍ له نظره دغه ډول تقنيني سند د مقررې په څېر دی، تصميمونه په متفرق شکل د تقنيني اسنادو په څېر د کابينې په مصوباتو کې درج شوي هيواد اول شخص له لاسليک څخه وروسته د خپلو موضوعاتو په اړه د تقنيني سند حيثيت ترلاسه کوي.

## پنځم مطلب : د قوانينو پړاونه:

د نورو قوانينو طی مراحل يوازې د تصويب په برخه کې توپير لري، نور موارد يې يوشان دي، چې په ټوله کې د تقنيني اسنادو طی مراحل د تقنيني اسنادو د طی مراحل د قانون د (۳) مادې د (۱۴) فقرې د حکم په ترڅ کې داسې معرفي کېږي: طی مراحل تسويد، تدقيق، تائيد، تصويب، توشيح او په رسمي جريده کې د تقنيني سند نشر دی. چې په لانديني چارټ کې په واضح شکل معرفي کېږي:



**تسوید:** په لغت کې د مخکې لیکلو (پیش نویس) په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې د تقنیني سند د طرحې له لیکلو څخه عبارت دی.[٤]

**تدقیق:** په لغت کې د ارزولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: د شکل او محتوا له نظره د تقنیني سند د ابتدایي طرحې د اصطلاحاتو، کلیمو، عبارتونو، جملو او احکامو له ارزوني او د اسلامي شریعت له احکامو سره د هغه له نه مخالفت او د افغانستان له اساسي قانون، نورو نافذو قوانینو، نړیوالو تړونونو او معاهدو او د ټولنې سالم عرف سره د هغه له سمون څخه له ډاډه کېدو عبارت دی.[٥]

**تائید:** په لغت کې د سم ګڼلو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: له هغه تصمیم څخه عبارت دی، چې د احوالو له مخې د تقنیني سند د راتلونکې طی مراحل د لزوم په اړه د قوانینو د کمېټې یا حکومت له خوا نیول کېږي.[٦]

**تصویب:** په لغت کې د تائیدولو او منلو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: عبارت له هغه تصمیم څخه عبارت دی، چې د باصلاحیته مرجع له خوا د تقنیني سند د طرحې د تائید یا رد په اړه نیول کېږي.[٧]

**توشیح:** په لغت کې د منلو وړ ګرځېدو، لاسلیکولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: د فرمان په ذریعه د ولسمشر له سم ګڼلو (لاسلیک) څخه عبارت دی، چې د قانون د انفاذ په موخه تقنیني فرمان او تعدیل، ایزاد، حذف، الغا، تعلیق او ضمیمه پکې صادر شوي وي.[٨]

**نشر:** په لغت کې د خپرولو، تیتولو، اشاعه کولو او چاپولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: په رسمي جریده کې د خلکو د خبرتیا په خاطر د تقنیني سند له چاپ او د هغه له خپرولو څخه عبارت دی.

د تقنیني سند په خپرولو کې موخه د دغې قاعدې (د قانون له احکامو څخه ناخبري عذر نه ګڼل کېږي) تطبیق دی، دولت مکلف دی، چې په لومړي قدم کې هغه قوانین چې وضعه کوي یې، په

---

٤ - د تقنیني اسنادو د طی مراحل قانون، (٣) ماده (١٥) فقره.
٥ - پورتنی مرجع، (٣) ماده (١٦) فقره.
٦ - پورتنی مرجع، (٣) ماده (١٧) فقره.
٧ - د تقنیني اسنادو د طی مراحل قانون، (٣) ماده (١٨) فقره.
٨ - پورتنی مرجع، (٣) ماده (١٩) فقره.

رسمي جريده کې خپاره کړي او د رسنيو له لارې يې نورو ته ورسوي، ترڅو ياده قاعده د عذر په توګه ونه ګڼل شي.

**انفاذ:** په لغت کې د فرمان او لارښوونې د اجراکولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: د تقنيني سند د احکامو له لازم الاجرا کېدو څخه عبارت دی.[٩]

**مهلت:** په لغت کې د وخت ورکولو او ځنډولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: د تقنيني سند د تطبيق په خاطر د هغه د انفاذ لپاره د ټاکلي وخت له مهلت ورکولو څخه عبارت دی.

دغه پړاو په ټولو تقنيني اسنادو کې شرط نه ګڼل کېږي، په ځينو جزايي قوانينو کې رعايت کېږي، دليل يې دا دی، چې خلک په جرمي کړنو کې د قانون له خطاب څخه لومړی خبر شي، لکه څرنګه چې د جزا کوډ او د جزايي اجرأتو قانون له دغې قاعدې څخه پيروي کړې ده.

٩ - پورتنۍ مرجع، (٣) ماده (٢١) فقره.

## دویم مبحث

## دقانون تفسیر  څرنګوالی

قوانین هر څومره چې د هغو په جوړښت کې د قانون جوړونکی ( مقنن ) دقت وکړي، بیا هم په قانون کې د ابهام او اغماض امکان شتون لري، چې دغه ابهام د قانون تطبیق شاید په ناسمه لاره بوځي او د هغه له تطبیق څخه د هغه د نه روښانتیا په پلمه شاید ډډه او امتناع وشي. پر همدې بنسټ د قانون د تفسیر قواعد د حقوقو په علم کې رامنځته شول.

د قانون تفسیر د حقوقو په اصطلاح کې عبارت ده: د قانونی حکم استنباط د اغماض او پیچلوالی په صورت کې په مختلفو علمی حقوقی ابزارو او طریقو سره، ترڅو د مقنن واقعی هدف پکی پیدا او د تطبیق لپاره یې واضح کړي.

د پورتنی وضاحت او تعریف سره په کتو د قانون تفسیر د حقوقو د علم پر بنسټ په لاندیني مطالب کې د بحث وړ ګڼل کیږي:

### لمړی مطلب : د تفسیر مراجع:

په ټولیز شکل د تفسیر مراجع په درې برخو وېشل کېږي، تقنیني تفسیر، قضايي تفسیر او شخصي تفسیر.[١٠]

---

١٠ - المدخل الی القانون، ٢٦٧ مخ.

۱ . **تقنيني تفسير:** له هغه تفسير څخه عبارت دی، چې د قانون جوړونې د مرجع (پارلمان) له خوا ترسره کېږي، که څه هم د نورو هېوادونو په څېر د افغانستان په تیر شوی اساسي قوانینو کې دغه موضوع په صراحت سره یاده شوې نه ده، چې ملي شورا د قانون د تفسیر صلاحیت لري؛ مګر دلالتاً دا امکان شته، چې ملي شورا د ابهام په صورت کې د قانون د تفسیر او وضاحت په خاطر د شورا د دواړو مجلسونو د هر یو د طرحې په توګه د قانون په تعدیل، ایزاد او یا لغوې لاس پورې کړي، په دې دلیل چې د ملي شورا هر مجلس د کال ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون د (۹۵) مادې د صراحت له مخې دا صلاحیت لري، ترڅو د قانون طرحه ترتیب او وروسته يې تصویب کړي. د یاد صلاحیت پربنسټ ملي شورا د نافذو قوانینو ابهام د هماغه قانون د جز یا نوي قانون د طرحې په تعدیل او ایزاد کې تقنیني تفسیر کولای شي، یعنې دا تصریح کولای شي، چې په فلانۍ مادی او یا فلانۍ فقره کې د قانون د فلاني متن موخه داسې او په دې ډول وه.
تقنیني تفسیر د رسمي مراجعو له تفسیر څخه ګڼل کېږي، هرکله چې مقننه قوه په پورتنۍ توضیح لاس پورې کړ او دغې توضیح او تفسیر په قانوني شکل خپل پړاوونه طی کړل، بیا د تقنیني سند په توګه لازم الاجرا او د اجرایوي ضمانت لرونکی دی.

۲ . **قضايي تفسير:** د افغانستان حقوقي سیستم د رسمي مراجعو په تفسیر کې قضایي تفسیر ته د افغانستان د کال ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون د (۱۲۱) مادې په صراحت کې رسمیت ورکړی دی، دې توپیر سره چې د تعاملي حقوقي سیستم په لرونکو نورو هېوادونو کې (په بشپړ ډول) هره محکمه د خپل صلاحیت په چوکاټ کې د قانون د تفسیر حق لري، حال دا چې په افغانستان کې دغه حق یوازې د سترې محکمې مقام ته ورکړل شوی دی. د یاد اساسي قانون (۱۲۱) ماده داسې صراحت لري:

(له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی).
کوم موارد چې د اساسي قانون په دغې ماده کې تصریح شوي دي، هغه عبارت دي له:

**لومړی مورد:** له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو او نړیوالو تړونونو د مطابقت څېړنه، دغه صلاحیت په خپل ذات کې د قانون د تفسیر یو ډول دی، که چېرې فرعي قوانین او نړیوال

تړونونه له اساسي قانون سره چې اصل دی، په ټکر کې راشي، ستره محکمه هغه ټول لغوه کولای شي، د سترې محکمې دغه صلاحیت له اصل سره د فرع د مطابقت د قاعدې پربنسټ دی، دې توضیح سره چې فرع د اصل مخالفه نه شي کېدلای.

او له بلې خوا ستره محکمه د دوو نورو قوو (اجرایه او مقننه قوو) ناظره ده، هرکله چې اجرایه قوه قانون د اساسي قانون خلاف تسوید او یا یې د تقنیني فرمان په واسطه نافذ کړي، قضایه قوه له اساسي قانون سره د هغه د مطابقت د څېړلو په صورت کې، که چېرې د اساسي قانون د اصولو مخالف وضعه شوی وي، هغه لغوه کولای شي او که چېرې مقننه قوه په تېره د ملي شورا ولسي جرګه چې تر ډېره په سیاسي شکل جوړه شوې ده، قانون د اساسي قانون خلاف تصویب کړي، قضایه قوه له اساسي قانون سره د مطابقت او د ټکر موندلو په صورت کې هغه ردوي.

حکومت له نړیوالو تړونونو سره یوځای کېږي، ملي شورا دا صلاحیت لري، چې هغه تصویب کړي، قضایه قوه له اساسي قانون سره هغو ته مطابقت ورکوي، له اساسي قانون سره د ټکر موندلو په صورت کې قضایه قوه د نړیوالو تړونونو د لغوې تصمیم نیسي.

له همدې مخې قضایه قوه چې په رأس کې یې ستره محکمه شتون لري، د هېواد په سطحه ډېره عالي حقوقي مرجع ګڼل کېږي، نو دا صلاحیت لري، چې تر وروستۍ خبرې پورې ستره محکمه د قوانینو د تفسیر په حقوقي مسایلو کې تصمیم ونیسي.

**دویم مورد:** ستره محکمه دا صلاحیت لري، ترڅو فرعي قوانین، تقنیني فرمانونه او نړیوال تړونونه قضایي تفسیر کړي، ستره محکمه دا صلاحیت لري، چې فرعي قوانین او هغه نړیوال تړونونه چې افغانستان ورسره یوځای شوی دی، د ابهام په صورت کې د هغو قواعدو له مخې تفسیر کړي، چې وروسته ورته اشاره کېږي.

**درېیم مورد:** شرط دا دی، چې حکومت او یا محکمې له سترې محکمې څخه تفسیر وغواړي، پر همدې بنسټ د تفسیر هره غوښتنه له دوو رسمي مراجعو حکومت او یا محکمو څخه باید وشي، محکمې په خپله له سترې محکمې څخه چې برخه یې ده، د تفسیر غوښتنه کولای شي او حکومت د

کابينې يا د وزارتونو د هرې برخې له لارې له سترې محکمې څخه د قانون د تفسير غوښتنه کولای شي.

په دغه قيد کې د غور وړ ټکی د تقنيني تفسير د مشروعيت د دلالت برداشت دی، چې په لومړۍ برخه کې ورته اشاره شوې، د اساسي قانون د يادې مادې په متن کې اجرايه قوې (حکومت) ته اجازه ورکړل شوې، ترڅو له سترې محکمې څخه د قانون د تفسير غوښتنه وکړي؛ مګر له مقننه قوې څخه يادونه د قانون په متن کې شتون نه لري، په دې دليل چې مقننه قوه په خپله تقنيني تفسير ته چې وړاندې توضيح شو، مخه کولای شي.

**٣ . شخصي تفسير:** دا غير رسمي تفسير دی؛ مګر د تفسير دوه رسمي مراجع د تفسير له دغې مرجع څخه ګټه اخلي، دې توضيح سره چې په افغانستان کې د تفسير قواعد د قانون د لومړني مصدر اسلامي فقې پربنسټ رامنځته کېږي، ځکه قوانين شرعي سرچينه لري او د اسلامي فقهاؤو يا حقوقپوهانو له خوا د قانون د تفسير قواعد وضعه کېږي، د تفسير دوه رسمي مراجع مکلفې دي، ترڅو د فقهاؤو او حقوقپوهانو له قواعدو او مباحثو څخه په پيروۍ قانون تفسير کړي.

## دويم مطلب : د موضوع له پلوه د تفسير ډولونه:

تفسير د موضوع له پلوه د لفظي تفسير، منطقي او اصولي تفسير په ډولونو وېشل کېږي، چې هر يو لاندې توضيح کېږي.

### لومړی جز: لفظي تفسير:

د قانون په لفظي تفسير کې تر ډېره د اصول فقې د علم له قواعدو څخه ګټه اخيستل کېږي، هغه علماء او پوهان چې د فقې او قانون په برخه کې تبحر لري، د اصول فقې د علم قواعد د مقارنې په شکل د قانون په تفسيرونو کې کاروي، لکه څرنګه چې دکتور عبدالکريم زيدان په خپل کتاب د اسلامي فقې اصول کې د شرعي نصوصو له مثالونو وروسته د وضعي قانون له نصوصو څخه هم په هغو قواعدو کې چې اشاره به ورته وشي، ګټه اخيستې ده.

په لفظي تفسير کې د قانون د متن په لفظي څېړنې ډېر تمرکز کېږي او له هغه تفسير څخه عبارت دی، چې د قانون د متن د اغماض او ابهام په صورت کې په معنا کې د لفظ د کارولو له اعتبار او يا پر

معنا د لفظ له دلالت څخه استنباط کېږي، چې په معنا کې د لفظ د کارولو په صورت کې لفظ په حقیقت، مجاز، صریح او کنايي وېشل کېږي او پر معنا د لفظ د دلالت په صورت کې کله کله د لفظ دلالت واضح دی (واضح الدلالة)، چې په ظاهر، نص، مفسر او محکم وېشل کېږي او یا د لفظ دلالت واضح نه دی (غیر واضح الدلالة)، چې په خفي، مشکل، متشابه او مجمل وېشل کېږي، په لاندیني چارټ کې لومړی دغه ډولونه د هغو په فرعي ډولونو وېشل شوي او بیا هر یو د قانوني متونو په مثال کې توضیح کوو.

### ا) د معنا په اعتبار د لفظ کارول:

د معنا په اعتبار د لفظ د کارولو په تفسیر کې د قانون په متن کې جدي ستونزه شتون نه لري؛ بلکې نسبي ابهام او اغماض د بحث د ګډوډۍ سبب ګرځي، ځکه په معنا کې د لفظ کارول له موضوع سره تړاو لري او یا یې نه لري، چې په حقیقت، مجاز، صریح او کنايي وېشل کېږي.

### ۱ . حقیقت :

هغه لفظ دی، چې د یو شي لپاره کارول شوی او ورته وضعه شوی دی، کله کله دغه حقیقت لغوي دی او کله کله اصطلاحي دی.[۱۱]

په حقیقي لفظ کې پر معنا د لفظ کارول د افغانستان کال ۱۳۸۲ هـ.ل اساسي قانون په (۳۰) ماده کې د لیکل شوي اقرار اصطلاحي معنا په مثال کې راوړلای شو، چې داسې صراحت لري:

(له متهم یا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوي څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نلری، په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړ ه خوښه او دعقلي روغتیا په حالت کې یې د با صلاحیته محکمې په وړاندې کړی وي).

په پورتني مثال کې حقیقي معنا د لفظ په کارولو کې له اصطلاحي نظره پیدا کولای شو، ځکه له لغوي نظره اقرار په څو مواردو کې د کارولو وړتیا لري، اقرار په مدني قضیو کې، اقرار په سوداګریزو قضیو کې او اقرار په جزايي قضیو کې. پر همدې بنسټ د قانون په یاد متن کې د مقنن موخه یوازې په جزايي

---

۱۱ - دکتور زیدان، اصول فقه اسلامی، ۳۲۸ مخ.

قضیو کې له اصطلاحي نظره د اقرار د لفظ کارول دي، له همدې مخې د پورتنۍ مادې متن په مدني او سوداګریزو قضیو کې د استناد وړ نه شو ګرځولای.

### ۲ . مجاز:

هغه لفظ دی، چې له خپلې حقیقي موضوع پرته په غیر موضوع کې د هغې علاقې له مخې کارول کېږي، چې د هغه او قرینه ترمنځ چې د لفظ لپاره د حقیقي معنا د ارادې خنډ وي، شته ده، لکه د اسد (زمري) لفظ چې د زړور کس لپاره کارول کېږي.[۱۲]

د قانون په متونو کې د مجاز لفظ د (شخصیت) د لفظ په کارولو کې موندلای شو. دغه لفظ د انسان د حقیقي معنا لپاره د کارولو وجه لري، چې د حقیقي شخصیت په نوم یادېږي او هم په مجازي معنا کې د حکمي شخصیت په نوم د کارولو وجه لري، د دواړو معناګانو حقیقي او مجازي د تړاو قرینه د هغې مشخصې پربنسټ ده، چې شخصیت ته کارول کېږي او اساس یې د انسان د منطقي قاعدې پربنسټ دی، چې ناطق حیوان د نطق او خبرو کولو د مشخصې پربنسټ له غیرناطق حیوان څخه تفکیک کېږي او د حقیقي لفظ کارول د انسان لپاره دي، په دې خاطر چې د حق او وجیبې لرونکی دی، حکمي شخصیتونه هم د انسانانو په څېر د حق او وجیبې لرونکي دي، چې د مماثلت دغه قرینه د دولتي ادارو، شرکتونو، ټولنیزو او سیاسي سازمانونو لپاره د شخصیت د مجازي لفظ د کارولو سبب ګرځي. نو د همدغه مسؤلیت پربنسټ افغانستان کال ۱۳۸۲ هـ.ل اساسي قانون دواړه شخصیتونه د محاکمو پر وړاندې مدعي او مدعي علیه ګرځوي.

د یاد اساسي قانون (۱۲۰) ماده د قضایه قوې صلاحیت داسې بیانوي:

(د قضایه قوې په صلاحیت کې په ټولو هغو دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي یا مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي).

---

۱۲ - پورتنۍ مرجع، ۳۲۹ مخ.

د پورتنۍ مادې متن کې لفظ په حقیقي او مجازي دواړو معناګانو کې کارول شوی دی، د قانون د مادې د نفس توضیح د دولت د ټینګار لپاره چې د حکمي شخصیت په توګه بلل شوی دی، په تکراري شکل یاد شوی دی.

وړاندې مو یاده کړه، چې د معنا په اعتبار د لفظ په کارولو کې د قانون په متن کې بنسټیزه ستونزه شتون نه لري او د دغو وېشنو ټولګۍ د راتلونکي وېش د وضاحت په موخه چې د دلالت په اعتبار د لفظ کارول دي، د قانون په متونو کې یادوو.

که چېرې په قانون کې د شخصیت لفظ په مطلق شکل کارول شوی وي، دواړه شخصیتونه په عام ډول حقیقي او مجازي (حکمي) رانغاړي او د قانون له متن څخه د حکم استنباط په عام مفهوم د شخصیت په دواړو ډولونو کې دی او هر کله چې د قانون په متن کې اضافي صفت سره شخصیت پر حقیقي یا حکمي قید ګرځېدلی وي، بیا تخصیص په هماغه ډول کېږي او دویم شخصیت ترې منتفي دی.

### ۳ . صریح:

هغه لفظ دی، چې مراد یې د ډېر کارولو په خاطر په بشپړ ډول ظاهر او څرګند وي، هغه که حقیقت وي، یا مجاز.[۱۳]

مقنن د قوانینو په وضعه کې تر ډېره دا کوشش کوي، ترڅو صریح الفاظ وکاروي، لکه څرنګه چې د اساسي قانون د (۱۲۰) مادې متن په صراحت سره حقیقي او حکمي شخصیت د دولت په شمول د محکمو مخې ته د مدعي او مدعي علیه په توګه معرفي کړل، د لفظونو په دغه ډول کارولو کې هر ډول ابهام او اغماض د قانون په متونو کې منتفي دی.

### ۴ . کنایه:

هغه لفظ دی، چې معنا یې د کارولو له مخې پټه او مستتره وي او له قرینې پرته پوهېدل پرې نه کېږي، هغه که لفظ حقیقت وي، یا متعارف مجاز.[۱٤]

---

۱۳ - دکتور زیدان، اصول فقه اسلامی، ۳۳۳ مخ.
۱٤ - پورتنۍ مرجع، ۳۳۴ مخ.

دغه ډول الفاظ او جملې په قانون کې نه کارول کېږي؛ مګر د قانون د تطبيق په برخه کې کله کله راپيدا کېږي، چې قاضي د هغو پېټوالی په عرف کې د قرينې او يا نورو مواردو پربنسټ تفسيروي، ترڅو مطلوب مقصد ترې واخيستل شي. لکه يو کس خپله مېرمن په کنايي لفظ طلاق کړي، په دې صورت کې د صغرى بائن طلاق حکم چې په قانون کې تصريح شوى دى، هغه وخت تطبيقېږي، چې قاضي دغه لفظ د طلاق په عام عرف کې د حکم د تفسير پربنسټ صادر کړي.

### تبصره: د قانون په تفسير کې د پورتنيو ډولونو ګټه:

د معنا په اعتبار د لفظ د کارولو پربنسټ د قانون په تفسير کې د پورتنيو مطالبو يادول د هغو له قانوني ډولونو او مثالونو سره يوځاى په دې خاطر توضيح شول، هر کله چې حقيقي معنا د قانون د موادو په متن کې شتون ولري، د قانون په تفسير کې مجازي معنا ته اعتبار نه ورکول کېږي او هر کله چې صريح لفظ د قانون په متن کې شتون ولري، قاضي د قانون متن ته په کنايي لفظ اعتبار نه شي ورکولاى.

لکه څرنګه چې په دې اړه د مجلة الاحکام (۱۲، ۱۳ او ۶۱) ماده داسې صراحت لري:

(الأصل في الكلام الحقيقة ) په کلام کې اصل حقيقت دى

(لا عبرة بالدلالة في مقابلة التصريح) د صريحې معنا په مقابل کې دلالتي معنا عتبار نه لري

(إذا تعذرت الحقيقة يصار ألى المجاز) کله چې حقيقت ډېر سخت و، په مجاز شکل کلام تعبيرېږي.

### ب) پر معنا د لفظ دلالت:

په دغه وېش کې لفظي تفسير ډېر عام دى، ځکه پر معنا د لفظ دلالت د ټاکلو قواعدو له مخې بايد رامنځته شي، نه دا چې له قواعدو بهر هر کس په خپل ګومان د قانون لفظي تفسير وکړي، په دې چې په حقيقت کې د قانون موخه چې د ټولنې له نظم څخه عبارت ده، له منځه ځي او د موخې خلاف ګډوډي رامنځته کېږي.

پر معنا د لفظ دلالت کله کله واضح دلالت دى، چې په دې برخه کې هم د مقنن د موخې استخراج په آسانۍ سره استنباط کېږي او د ظاهر، نص، مفسر او محکم په ډولونو وېشل کېږي او يا کله کله د

لفظ دلالت واضح نه دی، چې په دغه ډول تفسير کې له دقت څخه کار اخيستل کېږي او د خفي، مشکل، متشابه او مجمل په ډولونو وېشل کېږي.

### ۱ . واضح دلالت:

د ظاهر، نص، مفسر او محکم په ډولونو وېشل کېږي او په لاندې ډول د قانون د متونو په ترڅ کې توضيح کېږي:

### ا) ظاهر:

ظاهر له هر هغه کلام يا لفظ څخه عبارت دی، چې اورېدونکي ته يې معنا او مراد څرګند شوی وي، پرته له دې چې په يوې بهرنۍ قرينې پورې بند پاتې شي او يا فکر وکړي، چې آيا د کلام سياق د معنا لپاره د پام وړ دی، که نه.[۱۵]

د قانون د متن په ظاهر کې تفسير ته اړتيا نه شته؛ بلکې ستونزه په هغه امر کې ده، چې په بهرنۍ قرينې پورې متوقف دی او يا فکر د پام وړ کلام سياق ته دی، په دې برخه کې د کال ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون (۲۳) ماده مثال کې راوړلای شو، مقنن د انسان د ژوند او حيات په اړه داسې حکم کوي:

( ژوند د خدای ج بخښنه او د انسان طبيعي حق دی، هېڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي).

د يادې مادې په متن کې دا جمله (ژوند د خدای ج بخښنه او د انسان طبيعي حق دی) ظاهر المعنا جمله ده، لوستونکی او اورېدونکی د هغې د فهم لپاره بهرنۍ قرينې ته اړتيا نه لري او د اصلي قاعدې په توګه ګڼل کېږي؛ مګر وروستۍ جمله (هېڅ شخص له قانوني مجوز څخه پرته له دغه حق څخه نه محرومېږي)، د وړاندينۍ جملې په سياق پورې اړونده ده او بهرنۍ قرينې پورې متوقفه ده. هر کله چې قوانين د دغه حق په اړه صراحت وړاندې کوي، د اساسي قانون د متن د ظاهر اصلي قاعده بايد په پام کې ونيسي او له ياد حکم څخه سرغړونه نه شي کولای، لکه څرنګه چې د (۲۳) مادې له متن څخه د بهر قرينې په توګه د اساسي قانون په (۲۷) ماده کې داسې تصريح کوي: هېڅاته سزا نشي

۱۵ - اصول السرخسي، ۱ج، ۱۶۳ مخ.

ورکول کېدای، مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

د وروستۍ یادې شوې مادې د حکم پربنسټ مقنن په فرعي قوانینو کې داسې قوانین نه شي وضعه کولای، چې د ژوند سلبول د محکمې له حکمه پرته مجاز وګڼي او یا هم داسې شخص مجازات کړي، چې قانون د هغه عمل جرم نه دی ګڼلی او که چېرې دغسې قوانین وضعه شي، د اساسي قانون د (۲۳) مادې د متن د ظاهر پربنسټ د تفسیر په صورت کې له اصل سره د فرع د مخالفت له مخې د لغوې وړ ګڼل کېږي.

## ب) نص:

نص عبارت دی، چې لفظ او صیغه یې په خارجي امر باندې له موقوف والي پرته په خپل ذات دلالت وکړي او د کلام له سوق څخه هماغه د اصلي مقصود معنا ده.[۱٦]

نص د ظاهر په نسبت په خپل دلالت کې ډېر واضح دی، ځکه د کلام سوق د هماغې موضوع د بیانولو لپاره صادر شوی دی. لکه د اساسي قانون د (۲۳) مادې مثال:

( ژوند  د خدای ج بخښنه او د انسان طبیعي حق دی ... )

دغه حکم د قانون په خپل دلالت کې نص دی، چې د قاعدې په توګه وضعه شوې او په خپل ذات کې په بهرني امر پورې موقوف نه دی. د قانون د نفس او د نورو قوانینو راتلونکې قواعد د یادې مادې د متن د نص له دلالت څخه باید پیروي وکړي او مخالفت ورسره ونه کړي، د مخالفت په صورت کې د نص له دلالت څخه په مخالفت کې د تفسیر له کبله ردېږي.

یا په بل عبارت د یادې مادې په نص کې دوه اصله تفکیک شوي، د ژوند ساتل او د ژوند زوال، د ژوند ساتنه قانون الهي ډالۍ او طبعي حق ګڼلی، پرې تېری جایز نه دی او درناوی یې باید وشي؛ مګر

---

۱٦ - اصول السرخسي، ۱ج، ۱۶۴ مخ.

د زوال په برخه کې يې هغه قانون ته سپارلی ګڼلی دی، د نص دلالت دا دی، چې د انسان د ژوند هر زوال باید په قانون کې تصریح شوی وي، د قانون له جوازه پرته د ژوند زوال جایز نه دی.[۱۷]

### ج) مفسر:

مفسر له هغه لفظ څخه عبارت دی، چې په نص باندې د هغه د روښانتیا واضح والی ډېر وي او د تأویل او تخصیص احتمال ونه لري او په خپل نفس کې پر مفصلې معنا دلالت ولري.[۱۸]

د لفظ په دلالت کې د افغانستان کال ۱۳۸۲ هـ.ل اساسي قانون ډېر حکمونه د دویم څپرکي د اتباعو د اساسي حقوقو او وجایبو په برخه کې مثال راوړلای شو، ځکه دغه احکام په لومړي قدم کې قاعده وضعه کوي او وروسته يې تفسیر او بیان هم څرګندوي، ترڅو د ناسم تاویل او ناسم تخصیص له احتمال څخه مخنیوی وشي. په دې اړه د اساسي قانون (۲۵) ماده مثال کې راوړلای شو، چې داسې صراحت لري:

(د ذمې برائت اصلي حالت دی، تر هغې چې د باصلاحیته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم علیه ثابت نشي، بې ګناه ګڼل کېږي).

د يادې مادې په متن کې د قاعدې اصل د نص په توګه ياد شوی او برائت الذمه يې اصلي حالت ګڼلی دی. وروسته د قانون د مادې په نفس کې د هغه تفسیر راغلی دی، د تورن بې ګناهي يې د باصلاحیته محکمې د حکم د قطعیت تر وخته پورې موقوف ګڼلې ده او د شخص په مجرم والي د محکمې د حکم په صورت کې د برائت الذمه اصل له منځه ځي او د اتهام د رد په صورت کې د شخص دغه اصل پایښت مومي.

د قانون په متن کې د تفسیر ګټه دا ده، چې تاویل او تخصیص ردوي او د هغو مواردو بنسټ ږدي، چې له هغو څخه باید تېری ونه شي، لکه هر هغه قاعده چې د يادې مادې د متن د تفسیر مخالفه وي، مردوده ده، لکه د حکم له قطعیت څخه وړاندې د مجرم لفظ کارول شخص ته جایز نه دی، پر همدې بنسټ د عدلي تعقیب په پړاوونو کې تر عدلي تعقیب لاندې کسانو ته د مظنون، متهم او

---

۱۷ - اصول السرخسي، ۱ج، ۱۶۵ مخ.
۱۸ - پورتنی مرجع، ۱ج، ۱۶۵ مخ.

محکوم الفاظ کارول کېږي، کله چې د متهم په اړه باصلاحیته محکمه قطعي حکم صادر کړي، په دې صورت کې د مجرم لفظ کارول جایز دي.

### د) محکم:

له هغه لفظ څخه عبارت دی، چې صیغه یې د هغه پر معنا واضح دلالت کوي، چې د تاویل، تخصیص او د معنا د نسخې احتمال پکې نه شته.[۱۹]

د افغانستان کال ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون (۳) ماده داسې صراحت لري:

(په افغانستان کې هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي).

د قانون دغه حکم محکم دی، څکه نه د تاویل احتمال لري او نه هم د تخصیص او نسخې احتمال پکې شته. نو هر هغه قانون چې د اسلامي معتقداتو مخالف وضعه شي، که څه هم د هغه لپاره قانون جوړونکی د قانون په متن کې د مشروعیت تاویل ورکړي وي، چې په دې دلیل فلانی قانون د اوسني عصر اړتیا ده، یا په بل عبارت د قانون د وضعې اړتیا د اساسي قانون د (۳) مادې د متن د تاویل په خاطر نړیوالو مراودو ته توضیح شي، چې دا ایجابوي، ترڅو د شریعت خلاف دغسې قانون وضعه شي، یا دغسې نور تاویلات جایز نه دي او په دې برخه کې ناسم تفسیر ممنوع دی، څکه د اساسي قانون (۳) مادې د محکم اصل په توګه قاعده وضعه کړې ده، دغه قاعده د تاویل، تخصیص او نسخې احتمال نه لري، که چېرې د هغه مخالف هر قانون وضعه شي، مردود او د لغوې وړ ګڼل کېږي.

### د قانون په تفسیر کې د پورتني ډولونو مفاد:

پورتني ډولونه په دې خاطر د هغو له قانوني مثالونو سره یاد شول، که چېرې د قانون په متن کې د واضح الدلالة ډولونو ترمنځ ټکر رامنځته شي، د قانون د متن د تفسیر په اصولو کې یو پر بل ارجحیت لري، دې توضیح سره چې هرکله د قانون په متن کې ظاهر او نص په خپل منځ کې په ټکر کې واقع شي، د قانون د نص متن د قانون د ظاهر متن په نسبت ارجحیت او قوت لري، څکه د قانون د نص

---

۱۹ - اصول سرخسي، ۱ج، ۱۶۵ مخ.

د متن دلالت د قانون د ظاهر د متن په نسبت ډېر واضح دی او هرکله چې د قانون د نص متن او د قانون د مفسر متن له یو بل سره په ټکر کې راشي، د قانون د مفسر متن د قانون د نص پر متن ارجحیت او قوت لري او محکم په دغو ټولو باندې ارجحیت او قوت لري، دې توضیح سره دا چې د اساسي قانون د (۳) مادې محکم مو مثال کې راووړ، نو که د قانون د ظاهر، نص او مفسر د متونو په هر مثال کې د لفظ دلالت چې وړاندې توضیح شو، د اساسي قانون د (۳) مادې له متن سره په ټکر کې راشي، مردود او متروک دی، د لفظ د دلالت په تفسیر کې (۳) مادې ته د نورو ټولو تقنیني اسنادو په نسبت ارجحیت ورکول کېږي.

## ۲ . غیرواضح دلالت:

غیر واضح دلالت له هغه لفظ څخه عبارت دی،چې پر معنا د هغه په دلالت کې خفا او پټوالی موجود وي او په خپلې معنا باندې دلالت ونه کړي؛ بلکې په بهرني شي پورې موقوف وي.

د لفظ خفا د څو مرتبو لرونکې ده، چې اعلی یې متشابه او ادنی یې مجمل، وروسته ترې مشکل او ورپسې یې خفي دی، چې هر یو جلا جلا په لاندې ډول توضیح کېږي.[۲۰]

د قانون الفاظ ځینې وخت داسې ترتیب شوي دي، چې دلالت یې په معنا کې پټ دی، نو د قانون د دغسې متن د تفسیر له مخې پورتنیو مواردو او قواعدو ته باید مراجعه وشي، ترڅو د قانون متن له خفا څخه په روښانه شکل توضیح شي.

### ا) خفي:

خفی هغه لفظ دی، چې دلالت یې په خپلې معنا باندې ظاهر وي، مګر په ځینو افرادو باندې د هغه د معنا تطبیق ابهام او پټوالی ولري، چې بیا تاویل ته اړتیا لري، ترڅو د ځینو کسانو په نسبت ابهام، پټوالی او خفا زایله کړي او له منځه یوسي.[۲۱]

د خفي مثال د غلا په جرم کې واضح کولای شو، د جزا کوډ د (۶۹۹) مادې د حکم په ترڅ کې غلا تعریفوي:

---

۲۰ - دکتور زیدان، اصول فقه اسلامی، ۳۴۶ مخ.
۲۱ - پورتنۍ مرجع، ۳۴۷ مخ.

(سرقت له رضایت پرته د تملک په مقصد د غیر ملکیت د منقول مال له اخیستلو څخه عبارت دی).

د قانون د پورتنۍ مادې په متن کې تقنیني تشه شتون لري او هغه (په خفیه شکل) د قید له نه یادولو څخه عبارت دی، په دې چې د غلا جرم له خپلو نورو مماثلو جرمونو لکه غصب او نهب (چور او چپاول) سره په همدغه اختصاصي عنصر کې له یو بله تفکیک کېږي، حال دا چې په پخواني د جزا قانون د (۴۵۴) مادې د (۲) فقرې په متن کې سم تعریف شوی و او داسې صراحت یې درلود:

(د دغه قانون په مقصد کوم شخص چې د غیر منقول مال او متقوم ملکیت په خفیه شکل واخلي، سارق ګڼل کېږي).

دا چې زموږ د بحث موضوع دغه موضوع نه ده، نو ترې تېرېږو، یوازې د پخواني د جزا قانون د (۴۵۴) مادې په متن تمرکز کوو، چې د جزا کوډ د مادې په نسبت بشپړه ده.

د شخص لفظ د غلا په جرم کې ظاهر او څرګند دی، چې ټول وګړي رانغاړي، آن هغه کس چې د خلکو مال د هوښیارۍ او ویښې په حالت کې د هغو له جېبونو څخه په موټر یا د بازار ګڼه ګوڼه کې وهي، چې دغه کس ته طرار (کیسه بر) وايي. مقنن په پخواني د جزا قانون او د جزا کوډ کې د کیسه بر لپاره جلا جرمي وصف نه دی توصیف کړی، په دې دلیل چې کیسه بر د غله شخص غوندی هوبهو ګڼل کېږي، پر همدې بنسټ د کیسه بر د جرم وصف د قانون په متن کې د پټوالي له امله خفي دی، نو کوم تاویل چې وشو، د هغه له مخې دغه پټوالی او اغماض رفعه کېږي، که چېرې قاضي د غلا په جرمي وصف کې کیسه بر مجازات کړی، د قاضي حکم د قانون په تاویل کې خطا نه ګڼل کېږي.

او که قاضي چورګر او چپاولګر شخص د غلام د جرم په وصف مجازات کړي، په دې صورت کې د قاضي حکم د قانون په تاویل کې خطا ده او د قاضي تفسیر په خفا حالت کې د غلو (اشخاصو) په ډله کې د چپاولګر د نه شاملېدو په نسبت په خطا دی.

### ب) مشکل:

مشکل د کلام لپاره نوم او هغه لفظ دی، چې د ګڼو معناګانو احتمال ولري او مقصود يې په جمله کې يو وي؛ مګر کله کله په خپلو همشکله الفاظو کې په ګڼو معناګانو کې داخل او ورسره د اورېدونکي لپاره معنا مبهمه کېږي او غور ته اړتيا لري، تر دې چې د مثالونو ترمنځ يې توپير پيدا کېږي، له همدې مخې په مشکل کې د خفا سبب د لفظ نفس او د هغه صيغه ده.

مشکل خپلې صيغې سره پر مطلب دلالت نه کوي؛ بلکې يوې بهرنۍ قرينې ته چې د هغه مراد څرګند کړي، اړتيا ده او متشابه د خفي برعکس دی، ځکه مخفي والی د لفظ نفس نه دی؛ بلکې پر ځينو کسانو د لفظ د بهرنيو عواملو له مخې د معنا په تطبيق کې تېروتنه ده.[۲۲]

د مشکل مثالونه په هغو مشترکو الفاظو کې دي، چې په قانون کې کارول شوي او څو معناګانې او مفهومونه ترې اخيستل کېږي، په همدې خاطر لوستونکی او مخاطب له مشکل يا ستونزې سره مخ کوي. د هغه قانوني مثال د مدني قانون د (۷۰) مادې په ترڅ کې موندلای شو، چې داسې صراحت لري:

( د ازدواج اهليت هغه وخت پوره کېږي، چې نارينه وو د (۱۸) کلنۍ عمر او ښځو د شپاړس کلنۍ عمر پوره کړی وي).

د کال لفظ د يادې مادې په متن کې مشترک ياګڼل دی، د قمري او شمسي کال ترمنځ، په دې چې په افغانستان کې دواړه د مصداق مورد لري. په ديني مراسمو او موضوعاتو کې له هجري قمري تقويم څخه ګټه اخيستل کېږي او په نورو رسمي مواردو کې له هجري شمسي تقويم څخه ګټه اخيستل کېږي، نو د يادې مادې په متن کې د کال معنا ګډه شوه، د هجري قمري او هجري شمسي کال ترمنځ. لکه څرنګه چې د اساسي قانون (۱۸) ماده صراحت لري:

---

۲۲ - دکتور زيدان، اصول فقه اسلامی، ۳۴۹ مخ.

( د هېواد د تقويم مبدا د پيغمبر اکرم ص پر هجرت ولاړ دی، د دولتي ادارو د کار بنسټ هجري لمريز کال دی، د جمعې ورځې، د اسد ۲۸ او د ثور ۸ عمومي رخصتۍ دي، نورې رخصتۍ د قانون له لارې تنظيمېږي).

د اساسي قانون د يادې مادې متن هغه الفاظ ياد کړي دي، چې د هجري لمريز او هجري سپوږميز تقويم ترمنځ ګډ دي، ځکه دواړه تقويمونه د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) له هجرت څخه سرچينه اخلي، په ياد متن کې په دلالت کې خفا يوازې د دولتي ادارو په کار کې هجري لمريز تقويم ټاکلی دی.

له همدې پلوه د مدني قانون د يادې مادې په برداشت کې د ګډ لفظ له مخې مشکل شتون لري، نو څرنګه مو چې د مشکل په تعريف کې ووېل، د دغه مشکل په حل کې بهرنۍ قرينې ته اړتيا محسوسېږي، ترڅو د قانون نور احکام وڅېړو، چې تفکيک د دواړو تقويمونو ترمنځ شتون لري او که نه؟ د حکم د استنباط د مبحث خلط په دې خاطر دی، چې د واده موضوع تر ډېره پورې د اسلام د سپېڅلي دين په اعتقادي مسايلو او په افغانستان کې د هغو سرچينو پورې تړاو لري.

د مدني قانون د (۱۵) مادې حکم د مشکل په حل تمامېږي، ياده ماده داسې صراحت لري:

(موده د هجري شمسي کليزې سره سم تطبيقېږي).

بيا هم که د يادې مادې په متن کې له غور څخه کار واخيستل شي، نو د مادې د متن په لفظ کې بل مشکل هم شته، چې په متن کې ياد شوی نه دی (ميعاد په دغه قانون کې د هجري لمريز تقويم مطابق محاسبه کېږي)، حال دا چې دغه ماده د قانون د تطبيق تر عنوان لاندې د وخت له پلوه ذکر شوې ده او که چېرې ياده ماده د غيرواضح دلالت د مثال په تفسير کې واضح خفي ډول وګرځوو، د يادې مادې صراحت د قانون د ټولو موادو د شموليت په نسبت پر ټول قانون د افرادو په توګه شامل ګرځي، چې دې سره د مدني قانون د (۷۰) مادې مشکل حلېدای شي او په هغې ماده کې د مقنن موخه د هجري لمريز د تقويم مطابق کال دی.

### ج) مجمل:

مجمل هغه لفظ دی، چې مراد يې په عقل نه درک کېږي؛ بلکې د متکلم له لوري په نقل او استفسار درک کېږي. مجمل د مفسر برعکس دی، د مجمل مراد پوهېدنه اجمالوونکي استفسار ته اړتيا لري او له اجمالوونکي بيان څخه وروسته يې مراد پوهېدل کېږي.[23]

د غيرواضح دلالت په دغه ډول (مجمل) کې داسې طريقې شتون لري، چې مطلب پرې حل او د موخو پربنسټ يې د قانون تفسير ترسره کېږي. د بېلګې په توګه د قانون مسودې ته مراجعه کې چې د قانون په مسوده کې د مسوده جوړونکي موخه څه ده، شايد د تقنيني اسنادو د ځينو پړاوونو په طی کولو کې کمی او زياتی رامنځته شوی وي، چې د نافذ قانون متن به يې له اجمال سره مخ کړی وي او د اجمال رفعه کول د مسودې په هماغه بيان کې دي.

وړاندې مو د تفسير په مراجعو کې يادونه وکړه، چې تقنيني تفسير د ملي شورا د تفسير يوه مرجع ده، له همدې پلوه د قوانينو اجمال د مقننه قوې په واسطه مرفوع کولای شو، ځکه اصلي مقنن او د قانون متکلم د قانون د وضعه کوونکي په توګه مقننه قوه ده. نو هغه وخت د قانون اجمال رفعه کولای شو، کله چې مقننه قوه د خپل تفسير په واسطه د هغه په رفعې اقدام وکړي.

### د) متشابه:

متشابه له هغه لفظ څخه عبارت دی، چې مراد يې مخفي او پټ وي، صيغه يې پرې دلالت نه لري او نه يې هم د درک لپاره کومه لاره شتون لري، ځکه د دغې خفا د له منځه وړو په خاطر هېڅ قرينه نشته او په متشابه کې د ابهاماتو رفعه کول د څېړنې او تتبع په واسطه ترسره کېږي.[24] په قوانينو کې يې مثالونه نشته، پر همدې بنسټ د مثال له راوړلو څخه ډډه کوو.

---

۲۳ - دکتور زحيلي، اصول فقه اسلامی، ۱ج، ۳۲۸مخ.
۲٤ - دکتور زحيلي، وهبه، اصول فقه اسلامی، ۱ج، ۳۳۰ مخ/ دکتور زيدان، عبدالکريم، اصول فقه اسلامی، ۳۵۳ مخ.

## دویم جز: ادبي او منطقي تفسیر:

**دا ډول تفسیر ډیر په ادبي قواعدو او همدارا ز د منطق علم په قواعدو استوار دي چې په لاندي ډول توضیح کیږي:**

### ۱ . د تورو د معانیو پر مفهوم لفظي تفسیر:

په جملو کې د تورو کارول له ادبي پلوه خپلې ځانګړې معانۍ افاده کوي. د قوانینو په متن کې هم د تورو کارول خپلې معانۍ لري، چې د اغماض په صورت کې د تورو مفهوم ته مراجعه او د توري د کارولو پربنسټ د جملې د سیاق له مفهوم څخه د قانون حکم استنباط کیږي، چې ځینې توري او په قانون کې د هغو د کارولو وجه په لاندي ډول توضیح کیږي.

**ا) د (او) توری:** په جمله کې په څو معناګانو کارول کیږي، او د عطف، جمعې، مقارنت او معیت لپاره کارېدلای شي.

د عطف لپاره کارول شوی د واو توری د قانون په دغه متن کې موندل کیږي، د جزا کوډ (۶۸۱) ماده داسې صراحت لري:

(د ښکنځلو او سپکاوي د جرمونو عدلي تعقیب د متضرر په شکایت پورې تړلی دی ... .)

د قانون په پورتني متن کې د سپکاوي جرم د کنځلو له جرمونو سره تړلی او معطوف دی، یعني په دواړو جرمونو کې عدلي تعقیب د زیانمن په شکایت پورې تړلی دی.

د جمعې لپاره د کارول شوي د او توري مثال د اساسي قانون د (۵۰) مادې په متن کې شتون لري، چې داسې صراحت لري:

(اداره خپل اجراأت په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي).

د یادې مادې په متن کې د او توری د جمعې لپاره کارول شوی دی، په دې معنا چې اداره خپل اجراأت په ټوله کې په پوره بېطرفۍ او د قانون د احکامو مطابق عملي کوي، چې دواړه د ادارې د پنځه ګونو اصولو په جمعه کې شاملېږي.

**ب) د (یا) توری:** دغه توری د جمعې د منعې لپاره کارول کېږي او په قانون کې د کارولو ډېره وجه لري، لکه د اساسي قانون د (۳۸) مادې متن د شخص د کور  د تلاشۍ په اړه داسې صراحت لري:

(د شخص استوګنځی له تېري څخه خوندي دی، هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولای، د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قراره پرته او یا یې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوځي، یا یې وپلټي).

د پورتنۍ مادې په متن کې د (یا) توری دوه ځله کارول شوی، چې په پورتنۍ قانوني جمله کې د دغه توري د کارولو معنا په دوو جلا جلا حالتونو باندې د دوو حکمونو جلاکول دي، لومړي حالت د استوګن یا د باصلاحیته محکمې اجازه له یو بل څخه د دوو جلا جلا حکمونو په واسطه بېله کړې ده، چې هر یوه په خپل ذات کې د جلا جلا حکم ارزښت لري، یعنې که چېرې مؤظف مامور ته د استوګنځي استوګن د تلاشۍ اجازه ورکړه، بیا د محکمې اجازې ته اړتیا نشته او که چېرې استوګن اجازه ورنه کړه، په دې صورت کې لازمه ده، ترڅو مؤظف مامور د باصلاحیته محکمې اجازه ولري.

په بله برخه کې د ذکر شوی مادی د (یا) توری دوه برخې بیانوي، چې هر یوه د مختلفو حالتونو لرونکې ده، یعنې مؤظف مامور د شخص کور ته نه شي داخلېدلای، چې د داخلېدو نفس له کوم بل عمل څخه پرته مقنن بیانوي او دویم حالت د کور تفتیش او کتنه بیانوي، چې مؤظف مامور د قانون له حالتونو او طرز څخه غیر د دویم حالت اجازه نه لري.

**ج) د (حتی) توری:** د قانون په متن کې د تورو د معانیو او کارولو بل مثال هم راوړلای شو، د حتی توری په جمله کې د موضوع د انتها لپاره کارول کېږي، لکه څرنګه چې د اساسي قانون د (۲۹) مادې په متن کې کارېدلی دی او داسې صراحت لري:

(د انسان تعذیب منع دی، هېڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي، یا یې د تعذیب امر ورکړي).

د تفسیر له مخې د قانون د پورتنۍ مادې په متن کې د حتی د توري کارول د یاد حکم د ممنوعیت د انتها لپاره دی، یعنې شخص په ډېرې لړ شکنجې هم د تعذیب له لارې اعتراف ورکولو ته نه شو

مجبورولای، د یادې مادې حکم د (حتی) د توري له مخې په مطلق ډول د شکنجې په ممنوعیت حکم کوي. دا په داسې حال کې چې په ځینو هېوادونو کې پولیسو ته دا اجازه شته، ترڅو د اعتراف اخیستو لپاره په لږې شکنجې لاس پورې کړي. حال دا چې په افغانستان کې د یادې مادې په متن کې شکنجه په مطلق ډول د حتی په توري ممنوع ګرځول شوې ده او لږه شکنجه هم د جزا په کوډ کې جرم ګڼل شوې ده.

**د) د (مګر) توری:** دا توری د استثنا لپاره په قانون کې کارول کېږي او د اساسي قانون د (۹۴) مادې د متن په تفسیر کې یې موندلای شو، چې داسې صراحت لري:

( قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو جرګو له خوا تصویب او د جمهور  رییس لخوا توشیح شوی وي، مګر دا چې په دي اساسی قانون کې بل ډول ځرګند شوې وي).

د پورتنۍ مادې په متن کې د دوه ډوله قوانینو توپیر چې له مختلفو مراجعو څخه تصویبېږي، د (مګر) توري په واسطه استثنا شوی دی، چې په استثنا کې یې د اساسي قانون په (۱۱۱) ماده کې مندرج د اساسي قانون تصویب او د اساسي قانون په (۷۹) ماده کې مندرج د تقنیني فرمانونو تصویب یادولای شو.

### ۲ . پر مخالف مفهوم تفسیر:

پر مخالف مفهوم تفسیر د تفسیر هغه ډول دی، چې د قانون متن پکې منطوق دی، یعني مقنن د مشخصې مسئلې په اړه خپل حکم بیان کړی دی، چې د مقنن له بیان څخه د هغه مخالف مفهوم بل حکم استنباط کېږي. د دغه ډول تفسیر ډېر مثالونه په قانون کې د یو ځانګړي حکم د شرطونو په لړ کې موندلای شو. لکه قانون دا یادوي، چې هغه شخص د ولسمشر په توګه ځان انتخابولای شي، چې مسلمان وي او له افغان مور او پلار څخه پیدا شوی وي. د دغه حکم پربنسټ هغه څوک په افغانستان کې ولسمشرۍ ته ځان نه شي کاندیدولای، چې مسلمان نه وي او یا له افغان مور او پلار څخه پیدا شوی نه وي. که په پلار او مور کې یو افغان وي او دویم افغان نه وي، په دې صورت کې هم شخص خپل ځان ولسمشرۍ ته نه شي کاندیدولای.

په پورتني مثال کې لومړنی حکم منطوق دی، یعنې مقنن پرې خبرې کړې دي او دویم حکم له هغه څخه پر مخالف مفهوم استنباط کېږي.

### ۳ . قیاسي تفسیر:

قیاسي تفسیر له هغه تفسیر څخه عبارت دی، چې په قانون کې منطوق شتون نه لري، حال دا چې دې ته اړتیا ده، ترڅو د هغه په هم مثله احکامو باندې قیاس وشي، په دې شرط چې په قیاس کې د حکم مماثلت شتون ولري او د اصل متعدي کېدل چې د قانون متن دی، په فرعې باندې چې استنباط دی، مطابقت ولري. په دې معنا چې قیاس باید مع الفارق نه وي، دا په داسې حال کې چې د قانون د متن اصل په یو مورد کې حکم وکړي او په قیاس کې هغه په بل مورد کې استنباط شي، په دې صورت کې قیاس مع الفارق دی او دغسې قیاس جواز نه لري.

په دې اړه د مدني قانون د (۹۹۷) مادې د (۲) فقرې متن په مثال کې راوړلای شو، چې داسې صراحت لري:

( تلګرافي پاڼې چې اصل یې د تلګراف خانې په دفتر کې د تلګرافي په امضاء موجود دي، د عرفي سند حیثیت لري، د تلګرام پاڼه د هغې پورې د اصل ګڼل کېږي، چې د هغې په خلاف کوم دلیل ظاهر نه شي او که یې اصل د مینځه تللی وو، نو د اعتبار وړ نه دي).

دا چې مدني قانون په ۱۳۵۵هـ ش کال کې نافذ شوی و، نو په هغه وخت کې برېښنایي او الکترونیکي لیکونو کې یوازې تلګرام و، پر همدې بنسټ په فعلي عصر کې  د الکترونیکي اسنادو لکه ایمېل، وایبر، وټسپ، مسینجر او لسګونو نورو اسنادو لپاره چې اوس وخت کې متداول او په ټولنو کې جاري دي او هغوی د عرفي اسنادو په توګه خپل ارزښت په ټولنه کې پیدا کړی دی او ډېری معاملات او نور حقوقي مراودات د هغو په واسطه ترسره کېږي، په دې خاطر چې د قانون حکم د دغه مهال په وسایلو باندې د تطبیق وړتیا ولري، د تلګرام سند د فعلي عصر په برېښنایي اسنادو قیاس کړی او له هغه څخه دا حکم استنباط کوو، چې دغه ډول اسناد هم د مدني قانون د (۹۹۷) مادې د (۲) فقرې د متن تر شرایطو لاندې د عرفي سند په توګه راځي.

په پورتني قياسي تفسير کې د ياد تفسير شرايط د پام وړ ګرځول شوي دي، لومړی د تلګرام او نورو اسنادو لکه ايمېل، وايبر، وټسپ او مسينجر ترمنځ مماثلت شتون لري او دويم هغه فرع چې له مقيس (ايمېل، وايبر، وټسپ، مسنيجر) څخه عبارت دی، په مقيس عليه باندې چې له (تلګرام) څخه عبارت دی، په فرع د اصل تعديت راشي.

## څلورم جز: د تفسير حدود:

تفسير د حدودو له پلوه په متوسع تفسير او مضيق تفسير وېشل کېږي:

١ . متوسع تفسير: له هغه تفسير څخه عبارت دی، چې د هغو قواعدو له مخې چې په وړاندينيو مبحثونو کې ذکر شول، ترسره کېږي او په ډېر وسيع شکل کې دی، چې دغه ډول تفسير په اداري، مدني او سوداګريزو قوانينو کې معمول دی.

٢ . مضيق تفسير: له هغه تفسير څخه عبارت دی، چې په وسيع شکل تفسير نه کېږي او تفسير د هغو قواعدو له مخې چې په وړاندينيو مبحثونو کې ذکر شول، په مضيق او محدود شکل ترسره کېږي، ترڅو له ناسم تفسير څخه مخنيوی وشي. دغه ډول تفسير په جزايي قوانينو کې معمول دی، په جزايي قوانينو کې متوسع تفسير جايز نه دی، ځکه په جزايي قوانينو کې د جرم او جزا د قانونيت قاعده اغېزمنه کوي.

ليکونکې: دکتور محمد ظريف علم ستانکزی

منبع :( کتاب مبادی علم حقوق – کليات قانون در سيستم حقوقی افغانستان )

مؤلف: دکتور محمد ظريف علم ( ستانکزی)